كله چې الله جل جلاله د قيامت په ورځ لومړني او وروستني خلک راټول کړي، نو د هر خائن او غدار لپاره به يو بيرغ پورته شي، نو وبه ويل شي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خيانت دی

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كله چې الله جل جلاله د قيامت په ورځ لومړني او وروستني خلک راټول کړي، نو د هر خائن او غدار لپاره به يو بيرغ پورته شي، نو وبه ويل شي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خيانت دی».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې كله الله تعالى د قيامت په ورځ لومړني او وروستني کسان د حساب کتاب لپاره راټول کړي، نو د هر هغه غدار لپاره به چې له الله تعالى يا خلکو سره يې کړې ژمنې نه وي پوره کړي، يوه نښه وټاکي چې له مخې يې خيانت په ډاګه کړي، او له مخې به يې غږ وشي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خيانت دی، څو يې بد د محشر خلکو ته په ډاګه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2936

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee